**د خوراکي توکو د مرستي بيرني پروګرام (TEFAP) د ګډون کوونکي د ځرګندونو رسيد**
(Rev.
7/23)

**تاسو په شفاهي بڼه د لاندې معلوماتو صحت تاييدوئ:**

**1. تاسو د کنکتيکت ايالت اوسيدونکی ياست.**
**2. تاسو د <u>کورنۍ د غړو لپاره چې شمير يې لاندې ذکر شوی دی</u>، د (کلني) ټيټ عايد په کچه کې ياست.**

لانـدې جـدول د هـرې کـورنۍ کلنـي ناخـالص عايـد ښـيي. کـه چيـرې ستاسـو د کـورنۍ عايـد د کـورنۍ د غـړو لپـاره لـه هغـي عايـد څخـه چـې لاندې ښودل شوی دی، ټيټ وي، تاسو د TEFAP پروګرام مرستو ته واجد شرايط ياست.

| **د کورنۍ د غړو شمير** | 1 | 2 | 3 | 4 | 5 | 6 | 7 | 8* |
|---|---|---|---|---|---|---|---|---|
| **کلنی عايد** | 43,740 | 59,160 | 74,580 | 90.000 | 105,420 | 120,420 | 136,260 | 151,680 |

- د هر اضافي شخص لپاره $15,420 اضافه کړئ.

د عايد کړنلارې د فدرال د فقر د کچې 300 سلنه ښيي. نوی شوی په 7/1/2023نيټه

که چيرې ستاسو کورنۍ په لاندې پروګرامونو کې ګډون کوي، تاسو د **TEFAP** مرستو ته واجد شرايط ياست:
د خـوراکي توکـو د مرسـتي مـتمم پروګـرام (**SNAP**)، د ښـځو، نويـو زيږيـدلو ماشـومانو، او ماشـومانو پروګـرام (**WIC**)، اړو کورنيـو لپـاره د لنډ مهـالو مرسـتو پروګـرام (**TANF or TFA**)، د انـرژۍ مرسـتي، HUSKY Health/Medicaid، د کـور د کرايـې پروګـرام 8 Section، د ايالت د عمومي مرستو پروګرام (**SAGA**)، او د خونديتوب متمم عايد (**SSI**).

**3. تاسو <u>بايد راتلونکي ملاقات څخه مخکې</u> د خپلې کورنۍ د عايد په باب رپوټ ورکړئ.**

---

د فـدرال د مـدني حقونـو د قـانون او د متحـده ايـالاتو د کرهنـې د وزارت (USDA) د پاليسـيو او مقرراتـو سـره سـم، دا نهـاد د لانـدې توپيرونـو پـر بنسټ تبعـيض څخـه منـع دی: نـژاد، د پوسـتکي رنـګ، ملـي اصـليت، جنسـيت (د جنسـيتي هويـت او جنسـيتي تـوپير پـه ګـډون)، معيوبيـت، عمـر او د پخوانيو مدني حقونو د فعاليتونو په دليل غچ اخيستل.

معلومـات د انګليسـي ژبـې پرتـه پـه نـورو ژبـو هـم د لاسرسـي وړ دي. معيوبيـت لرونکـي کسـان چـې د پروګـرام د معلومـاتو پـه اړه د افهـام او تفهيم نـورو روشـونو لکـه (بريـل خـط، د تـورو لـوی چـاپ، د اواز ضـبط، د امريکـي اشـارې ژبـې) تـه اړتيـا لـري، بايـد لـه اړونـدې محلـي يـا ايـالتي اداري سـره چـې د پروګـرام د تطبيـق مسـووليت پـه غـاړه لـري يـا USDA's TARGET مرکـز سـره پـه (202) 720-2600 (voice and TTY) اړيکـه ونيسـي يـا USDA سـره د فـدرال د ريلـې خـدمتونو سـره پـه (800) 877-8339 شـميره اړيکـه ونيسـي. پـه پروګـرام کـې د تبعـيض پـه اړه د شـکايت لپـاره، شـکايت کـوونکی بايـد پـه لانـدې ډول خپـل شـکايت ثبـت کـړي: AD-3027 فورمـه، د تبعـيض پـه بـاب د USDA د شـکايت فورمـه چـې د [USDA د تبعـيض د شـکايت لـه فـورمې](#) څخـه ترلاسـه کيـدی شـي، د USDA پـه هـر دفتـر کـې، د (866) 632-9992 شـميرې لـه لارې، يـا USDA تـه د ليـک د ليږلـو لـه لارې. پـه ليـک کـې بايـد د شـکايت کـوونکي نـوم، پتـه، د ټيلفـون شـميره او د تبعـيض د عمـل پـه اړه هراړخيـزه ليکـل شـوې شـرحه شـامل وي ترڅـو د مـدني حقونـو د منشـي مرسـتيال (ASCR) لـه مـدني حقونـو څخـه د سـرغړونې د ماهيـت او نيټـې پـه اړه خبـر کـړي. USDA تـه بشـپړه AD-3027 فورمـه يـا ليـک بايـد لاندې پتې ته وليږل شي:

**1. ليک**
U.S. Department of Agriculture
Office of the Assistant Secretary for Civil Rights
1400 Independence Avenue,
SW Washington, D.C. 20250-
9410; or
**2. فکس**
(833) 256-1665يا (202) 690-7442؛ يا
**3. بريښناليک**
program.intake@usda.gov

دا موسسه د برابرو فرصتونو برابروونکی ده.

**دا سـند د خـوراکي توکـو د بيرنـي پروګـرام (TEFAP) څخـه د فـدرال د مرسـتو د ترلاسـه کولـو پـه اړه چمتـو شـوی دی. کيـدی شـي چـې د پروګـرام چـاروکي پـه دې سند کـې ذکـر شـوي معلومـات، تاييـد کـړي. تاسـو دا سـند د واجديت شـرايط د تاييـد پـه توګـه ترلاسـه کـړی دی. غلـط تصـديق کيـدی شـي ددې لامـل شـي چـې تاسـو د خـوراکي توکـو ارزښـت چـې پـه ناسـمه توګـه تاسـو تـه درکـړل شـوی دی، بيرتـه د ايالـت اړونـدې اداري تـه ورکـړئ، او همـداراز کيـدی شـي د ايالـت او فـدرال قـانون پـه چوکاټ کې د جنايي او مدني محاکمې لامل شي.**